# د نیوموکوکل ناروغۍ په وړاندې ساتنه کوي

## د نیوموکوکل کنجیټ (PNEU-C13) واکسین.




### دا واکسین مو د کومي ناروغۍ پر وړاندې ساتنه کوي؟

دا واکسین مو د ستریپټوکاکس نمونیا باکتریا د 13 ډولونو څخه ساتنه کوي، چې د نیوموکوکل ناروغی لامل کیږي.

د نیوموکوکل ناروغي کولی شي د سږو ، هوا ، وینې او مینځني غوږ انتاناتو او همدارنګه مننژیت لامل شي.



### څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي:

ماشومان د دې واکسین درې دوزونه ترلاسه کوي چې په ۲ میاشتنی عمر کی د معمول واکسینونو د مهالویش د یوې برخې په توګه پیل کیږي.

### څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟

تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض یا بدي اغیزي ولرئ



**د دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** بدي اغیزی یی خورا عادي او لنډمهاله دي، لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، ستړیا ، سر درد ، تبه ، د اشتها ضعیفوالی ، د زړه بدوالی یا خوا ګرزیدل، کانګې ، د معدې درد او داسې نور شامل دي. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د د پیچکاري یا ستني ځای کي د یخ ، لوند ټوکر څخه کار اخیستل، د تبی او درد ضد درمل د تبي او درد سره مرسته کولی شي؛ د سم درمل او دوز لپاره خپل ډاکتر فارمسست سره مشوره وکړئ. که تاسو روغتیایی اندیښنه لرئ یا د شدید جانبي عوارض تجربه کوئ، د خپل روغتیاپال سره اړیکه ونیسئ.

---

### که تاسو کومي اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنۍ ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association
19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19
*Financial contribution:*
Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada
ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE